


# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

# اباديي اوونيزه

هفته نامه آبادی

گڼــه : ۳ | مسلسل نمبر : ۹۳

دوشنبه، د شوال المکرم ۱۶مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال


## د عالیقدرامیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په ځانګړې ناسته کې د شوو پرېکړو د تعقیب غونډه جوړه شوه




۲ صفحه


## د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره کړنلاره جوړېږي




۲ مه صفحه


## د کابل او تهران ترمنځ په اقتصـــادي برخه کې د شوې توافقنامې پر بشپړ تطبيق ټينګار وشو




۳مه صفحه


## سرلیکنه



د افغانســـتان په خاوره کې د ټاپي پروژې چارې د پلان مطابق په چټکۍ سره روانـــې دي. تر دې دمه پورې د ټاپي پروژې نل ليکې چارې د افغانســـتان خاوره کې څه باندې لـــس کيلومټره پرمخ تللــې دي. اقتصادي چارو شـــونکي دا پروژه د هېواد لپاره يوه حياتي او بې سارې بولي. اسلامي امارت په وار وار د دې پروژې د چارو ښه ترسراوي ډاډ ورکړی دی. ټاپي په رښتيا هم د افغانستان له پاره يوه مهمه پروژه ده. د ټاپي پروژې لومړنۍ طرحه په نوېيمو کلونو کې مطرح شوه. خو چارې يې په هېواد کې د اشغال له امله پاتې وې. په افغانستان کې د امريکا له ماتې وروســـته او د اســـلامي امارت په راتګ سره د دې پروژې د پيل له پاره ديپلوماتيکې هلې ځلې پيل او په پای کې په ۱۴۰۳لمريز کال کې يې په افغانســـتان د جوړېدو چارې پيل او دا خوب په رښتيا د بدلېدو په حال کې دی. اقتصادي پرمختګ د هر هېواد اســـاسي هدف دی. هر هېـــواد هڅه کوي؛ چې د ټولنيز هوســـا ژونـــد لپاره لار پرانيزي، ځکه اقتصادي پرمختګ د ټولنې د هوســـاينې لومړنی شرط دی. د پرمختګ مفهوم ډېر لوی او بېلابېلې برخې لري: ټولنيز، سياسي، فرهنګي او ذهني پرمختګ؛ خو اقتصادي پرمختګ د دې پرمختګونو يوه ستره برخه ده. سربېره پر دې د اقتصادي پرمختګ له پاره بېلابېلې تيورۍ وړاندې شـــوې دي. ګڼ شـــمېر هېوادونو هڅه کړې؛ چې له خپل اقتصادي پرمختګ څخه په بېلابېلو برخو کې کار واخلي. اسلامي امارت د يوه مسوول حکومت په توګه هڅه وکړه چې د يادو ټولو برخو د پياوړتيا او غښتلتيا له پاره کار وکړي؛ خو دا چې اقتصادي برخه تر نورو مهمه ده، ځکه پورتنۍ ټولې برخې د اقتصاد پر محور راڅرخي، هر څومره چې اقتصاد پياوړی او پر خپلو پښـــو ولاړ وي، هغومـــره دا نـــورې برخـــې ورسره غوړېږي او پرمختګ کوي. له دې جملې يوه هم د ټاپي د ګازو د نل ليکې پروژه ده چې عملي چارې يې پيل او په چټکۍ سره روانې دي. ټاپي د افغانستان له پاره له ټو اړخونو مهمه ده، لومړی دا چې افغانســـتان به لـــه دې پروژې څخه ترانزيټ يا حق‌العبور فيس ترلاســـه کـــوي، دويم د دې پروژې په عملي کېدو سره به زرګونو افغانانو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره شي، درېيم له دې پروژې سره به د افغانســـتان عوايد زيات شي، دا راز که چېرې په نل‌ليکه کې ځای وي، نو افغانستان د قرارداد له مخې کولای شي خپل اضافي ګاز پاکســـتان او هند ته ولېږدوي. همدارنګه افغانستان به د دېرشو کلونو له پاره د خپلې ګازي انـــرژۍ تقاضا په ټيټه بيه پوره کړي. د دې ټولو تر څنګ د پروژې له عملي کېدو وروسته به په لومړۍ لســـيزه کې (۰،۵) په دويمه کې(۱) او په درېيمه کې به (۱،۵) ميليارده متر مکعبه ګاز ولري. اســـلامي امارت د دې ډول پروژو پر عملي کېدو سره غواړي افغانســـتان د نـــړۍ له نورو هېوادونو سره ســـيال او د افغانســـتان له ستراتيژيک موقعيت څخه هغه ډول ګټه پورته کړي، لکه څنګه يې چې اړتيا ده.




dpmea.gov.af/ps

# د عالیقدرامیرالمؤمنین شـــــیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په ځانګړې ناسته کې د شوو پرېکړو د تعقیب غونډه جوړه شوه



د عالیقدر امیرالمؤمنین شـــیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ د اقتصادي کمېســـیون د ځانګړې غونډې د شـــویو پرېکړو د تعقیب دوهمه غونډه د روان لمریز کال د وري میاشتې په ۲۰ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شـــوه. په دې غونډه کې چې د ریاســـت الوزراء د اقتصـــادي معاونیت د مقام د دفتر عمومي رئیس په مشرۍ جوړه شوې وه، د اسلامي امارت د بېلابېلو وزارتونو او یو شمېر ادارو استازو ګډون کړی وو. د عالیقدرامیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ د اقتصادي کمېســـیون له خوا په بېلابېلو برخو کې د دیارلسو پرېکړو د تطبیق په موخه د بېلابېلو امارتي بنســـټونو استازو خپل راپورونـــه وړاندې کړل. د عالیقدر امیرالمؤمنین شـــیخ صاحب حفظه الله په مشرۍ اقتصادي کمېســـیون د چارو اداري، کور او ښـــار جوړولو، عدلیې، کرنـــې، اوبو لګولو او مالدارۍ، صنعت او ســـوداګرۍ وزارتونو او کابل ښاروالۍ د استازو په ګډون پلاوي ته دنده سپارلې وه چې د هغو ځمکو په اړه چې خالص امارتي ملکیت او د هستوګنې او سوداګرۍ له پاره دي، تر ښـــاري پلان لاندې او زیربنایي (بنسټیزې) چارې یې یوه اندازه ترسره شوې دي، هر اړخیزه کړنلاره جوړه شي چې له مخې یې خلکو ته ځمکې تملیکاً په اصولي توګه وویشل شي. همدا راز په پرېکړه کې راغلي «هغه هستوګنیز ښـــارګوټي چې د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د اســـترداد کمېســـیون له لوري امارتي ثابت شوي او تصفیه شـــوي دي، هراړخیزه کړنلاره دې ورتـــه جوړه کړي چې له مخې یې د ښاري پلان مطابق خلکو ته د ابادۍ او ودانولو په موخه تملیکاً ورکړل شي». په دغه پرېکړه کې همدا راز ویل شوي چې د ښـــاري پلان له مخې دې د خلکو په شخصي ځمکو کې د ابادۍ او ودانیزو چارو ترسره کولو بهیر اسانه او ســـهولتونه ورته رامنځته شي. د چارو اداري استازي محمد شریف بها د ځمکو د ســـپارلو په اړه وویل چې په دې موخه دوې کمېټې جوړې شوې وې چې درې میاشتې یې پرې کار کړی او مســـوده یې جوړه شوې ده چې ژر به نهایي شي. په غونډه کې د ځینو نورو پرېکړو د تطبیق په برخه کې د ترسره شویو پرمختګونو په اړه هم راپورونه وړاندې شول.

د غونـــډې په پای کې د اقتصـــادي معاونیت د مقام د دفتر عمومي رئیس له خوا د چارو د اداري اســـتازي ته سپارښتنه وشوه چې د ځمکو د سپارلو مسوده دې په دوه ورځو کې له اقتصادي معاونیت سره شریکه کړي.

# د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره کړنلاره جوړېږي

د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت د مقام د دفتر عمومي ریاست د مرستیال په مشرۍ د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره د کړنلارې جوړېدو په تړاو د ټاکل شـــوې کمېټې لومړنۍ غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز



کال د وري میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شـــوې وه، چې د چارو اداري، مالیې، صنعت او سوداګرۍ، اقتصاد، کانونو او پټرولیم او عدلیې وزارتونو، د افغانســـتان بانک او امارتي شرکتونو لوی ریاســـت استازو پکې برخه اخیستې وه.

په غونډه کې د ســـهامي شرکتونو د رامنځته کېدو پر ارتیا او ارزښت خبرې وشـــوې. له تفصیلي بحث وروسته د بازار او خلکو لېوالتیا ته په کتو د ســـهامي شرکتونو رامنځته کېدل اړین وبلل شـــول چې له مخې به یې ثابتې او غیر متحرکې پانګې په حرکت راوستل شي. د غونډې په پای کې پرېکړه وشـــوه چې د ســـهامي شرکتونو د رامنځته کېدو او د هغو د فعالیتونو د تنظیم په موخه باید منظمه کړنلاره جوړه شي.

# د کابل او تهران ترمنځ په اقتصادي برخه کې د شوي توافقنامې پر بشپړ تطبیق ټینګار وشو

د کابل او تهران ترمنځ په اقتصادي برخه کې د شوي توافقنامې د بشپړ تطبیق په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډې تخنیکي کمېټې نوبتي تعقیبي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه



مانۍ کې ترسره شوه. له اجندا سره سم د دوه اړخیزې سوداګرۍ پر زیاتوالي، د ترانزیټ په برخه کې د موجودو ستونزو پر حل او د اړینو اسانتیاوو په برابرولو، د افغانستان د کرنې سکتور د میکانیزه کولو په برخه کې د ګډو همکاریو پر رامنځته کولو، د ترانسپورټ په برخه کې د شوو پرېکړو پر تطبیق، د افغانستان په کانونو کې د پانګونې او د ګمرکونو په برخه کې د لا زیاتو اسانتیاوو د چمتو کولو په اړه بحث وشو.

په غونډه کې د کابل او تهران ترمنځ په اقتصادي برخه کې د شوي توافقنامې پر بشپړ تطبیق ټینګار وشو او پرېکړه وشوه، چې په همدې موخه به د دغه کمېټې تعقیبي غونډې دوام ولري. د یادونې وړ ده چې د کابل او تهران ترمنځ په اقتصادي برخه کې شوې توافقنامه د سوداګرۍ، ترانزیټ، ترانسپورټ، کرنې، کانونو او یوشمېر نورو برخو کې ۹۲ مادې لري، چې د ډېرى برخو په عملي تطبیق سره یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې په زیاتوالي کې د پام وړ پرمختګ رامنځته شوی دی.

## اخبار اقتصادی هفته

### پیشنهاد طرح ۱۲ میلیون دالری برای ایجاد پارک صنعتی خصوصی در کابل

شماری از سرمایه‌گذاران افغان طرح سرمایه‌گذاری ۱۲ میلیون دالری برای ایجاد پارک‌های صنعتی در ده سبز کابل به وزارت صنعت و تجارت ارایه کرده‌اند. این سرمایه‌گذاران در دیدار با نورالدین عزیزی، سرپرست وزارت، تأکید کرده‌اند که فعال‌سازی پارک‌های صنعتی توسط سکتور خصوصی، نه تنها فرصت‌های شغلی برای صدها صنعت‌کار فراهم می‌کند، بل به هزاران نفر دیگر نیز فرصت‌های شغلی خواهد داد. سخنگوی این وزارت می افزاید که آقای عزیزی، ضمن استقبال از طرح این سرمایه گذاران، از آنان خواسته است تا پروپوزل خود را با وزارت شریک سازند تا تیم تخنیکی روی کار عملی آن برنامه ریزی کند. آخندزاده عبدالسلام جواد در این باره گفت: «اشخاص متذکره برنامه و مقدار سرمایه‌گذاری شانرا در مورد ایجاد پارک صنعتی خصوصی با سرمایه گذاری ۱۲ میلیون دالر در مساحت هزار جریب زمین در ولسوالی ده سبز کابل با مقام رهبر وزارت صنعت و تجارت شریک نموده و تاکید کرد که فعال شدن این پارک صنعتی به صدها صنعت‌کار زمینه فعالیت و به هزار ها تن زمینه کار را مساعد می‌کند.» در همین حال مسوولان در سکتور خصوصی، سرمایه گذاری روی ایجاد پارک های صنعتی با معیارهای جهانی را در رشد و توسعه تولیدات داخلی و ایجاد زمینه کار برای شهروندان در کشور اثرگذار عنوان می‌کنند. میرزمان پوپل سرپرست مالی و اداری اتاق تجارت و سرمایه گذاری گفت: «دولت باید در پارک‌های صنعتی سهولت های برق، کانالیزاسیون و زمین را فراهم کند اما سرمایه گذاران وظیفه دارند تا در بخش‌های مختلف مطابق به معیارهای بین‌المللی سرمایه‌گذاری هنگفت انجام دهند.» این در حالی است که پیش از این رهبر امارت اسلامی فرمان توزیع زمین در تمامی ولایت‌های کشور برای ایجاد پارک‌های صنعتی به هدف توسعه اقتصاد و رشد صنعت در افغانستان صادر کرد که هم اکنون شماری از نهادهای مربوط روی عملی‌سازی این دستور کار می‌کنند.

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی
ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسایلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

## صادرات بیش از ۳۲هزار تُن انجیر افغانستان به بازارهای جهانی در ۱۴۰۳

صادرات انجیر کشور در سال ۱۴۰۳ خورشیدی افزایش چشم‌گیر داشت و به ارزش بیش از ۱۶۵میلیون دالر به کشورهای گوناگون ارسال شد. وزارت صنعت و تجارت گفته است که این رقم رشد قابل توجه صادرات انجیر را در مقایسه با سال ۱۴۰۲ نشان می‌دهد. بر بنیاد آمارهای این وزارت، ۳۲هزار و ۸۱۴ تُن انجیر در سال ۱۴۰۳ به ارزش بیش از ۱۶۵ میلیون دالر به هند، پاکستان، امارات متحده عربی، امریکا، عمان، قطر، انگلستان، کانادا و هالند صادر شده است. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت در این باره گفت: «صادرات انجیر طی سال ۱۴۰۳ به وزن ۳۲ هزار و ۸۱۴ تُن به ارزش بیش از ۱۶۵ میلیون دالر صورت گرفته و بیشترین صادرات به کشورهای هند، پاکستان، امارات متحده عربی، امریکا، عمان، قطر، انگلستان، کانادا و هالند می‌باشد.» انجیر که از جمله فرآورده‌های مهم باغداری در افغانستان شمرده می‌شود، در این اواخر به‌عنوان کالای مهم صادراتی، به شکل خشک و تازه به کشورهای گوناگون صادر می‌شود.

## کار مرحله دوم بند برق باغ‌دره در پروان آغاز شد

سرپرست وزارت آب و انرژی در برنامه گشایش کار بخش دوم بند برق باغ‌دره‌ی ولایت پروان می‌گوید که این بند ظرفیت تولید بیش از ۲۲۶میگاوات برق را دارد که هزینه مجموعی آن بیش از ۵۶۲ میلیون دالر برآورد شده است. عبداللطیف منصور می‌افزاید که با تکمیل شدن این پروژه به بیش از ۲۲هزار و ۵۶۰ نفر زمینه کار دایمی فراهم خواهد شد. آقای منصور همچنین تاکید کرده است که وزارت آب و انرژی برنامه‌های بیشتری در بخش مهار آب و تامین انرژی در کشور دارد. عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی، افزود: «یکی از مزایای آن این است که آب‌های جاری پنجشیر را مهار خواهد کرد و در نتیجه بین ۲۴۰ تا ۲۵۰ میگاوات برق تولید خواهد شد که مشکلات باشندگان کابل و پارک‌های صنعتی آن را حل خواهد کرد.» بند برق باغدره که از سوی وزارت آب و انرژی با یک شرکت چینی به قرارداد سپرده شده قرار است در سه مرحله کار عملی آن تکمیل شود. درهمین‌حال، مسوول شرکت پیمان‌کار چینی می گوید که کار این بند تا هفت سال دیگر تکمیل خواهد شد و به‌دلیل پروژه‌ی مس عینک از اهمیت بالایی برخوردار است زیرا بیشتر برق آن در مس عینک به مصرف خواهد رسید. توافق‌نامه مطالعات امکان‌سنجی، جیوفیزیک و جیوتخکنیک بند برق باغدره، میان وزارت آب و انرژی و شرکت امسی سی چین، در حضور سرپرست این وزارت و سفیر چین در کابل در ماه دسامبر سال ۲۰۲۴ میلادی به امضا رسیده بود.



# په اقتصادکې د برېښنا ارزښت

قیس احمد

### سریزه

برېښنا د هېوادونو په اقتصادي ودې او د بشري ټولنې د مختلفو اړتیاوو لکه د خوراکي او څښاک توکو په برابرولو، سوداګریزو فعالیتونو ترسره کولو، روغتیايي او ښوونیزو خدماتو وړاندې کولو، برېښنايي حکومتولۍ، اداري فعالیتونو، امنیت، اطلاعاتو ته د لاسرسي او... اړتیاوو په پوره کولو کې د پام وړ مهم رول لوبولی دی. برېښنا د نړۍ په کچه د ډېرو مصرفېدونکو توکو څخه بلل کېږي چې ورځ تر بلې ورته اړتیا مخ په زیاتېدو ده. دغه اړتیا د یو هېواد د صنعت په برخه کې تر نورو برخو زیاته ده. ځکه د قوي اقتصاد لپاره صنعت او د پیاوړي صنعت لپاره بیا برېښنا تر ټولو اړینه ده. همدې ارزښت ته په کتو نن ورځ ټول هېوادونه کوښښ کوي چې په هېواد کې دننه د اړتیا وړ برېښنا د درلودو په صورت کې د خپلو مصارفو کچه راټیټه کړي. کله چې برېښنا ډېره او ارزانه وي، بیا صنعتي فابریکې زیاتېږي، د فابریکو په زیاتېدو سره خام مواد پر ځپخو اوړي او د تولید کچه لوړېږي. له دې سره کاري فرصتونه زیاتېږي چې په ورته وخت کې د بې وزلۍ او بې کارۍ ګراف راټیټېږي.

### د برېښنا اقتصادي ارزښت

په نړۍ کې د برېښنا تولید مختلفي منابع موجودې دي، چې تر ټولو مهم هغه یې نوې کېدونکې او پاکې منابع دي. له نېکه مرغه افغانستان د نوې کېدونکې او پاکې برېښنا د مهمو سرچینو (لمر او باد) فوق العاده لوړ ظرفیت لري. د ترسره شوو څېړنو له مخې افغانستان په کال کې ۳۰۰ لمریني ورځې لري چې تر ۲۲۲ زره میګاواټه لمریزه برېښنا تولیدبدلای شي. همدا راز په مختلفو ولایتونو کې د بادي برېښنا لوړ ظرفیت هم شته چې د هېواد په کچه یې ټول ظرفیت ٦٦ زرو میګاواټو ته رسېږي. د لمریزې او بادي برېښنا ارزښت په دې زیات دی چې



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونیزه اباديٍ
هفته‌نامـه آبـادی


دا منابع د برېښـــنا تولید د نورو منابعو برعکس د زیات کاربن د تولید مخنیوی کوي. د برېښنا د تولید د نورو سرچینو لکه ډبرو سکرو او طبیعي ګاز خلاف د ګلخانه‌یي مضرو ګازونو له انتشار پرته برېښنا تولیدوي. دغه چاره د اقلیمي بدلون د مدیریت او کنټرول په برخه کې ډېره مؤثره ده او اوسمهال په نړیواله کچه ورته جدي پام اوښتی دی.

لمریـــزه او بادي برېښـــنا نوې کېدونکې منابـــع دي چې هېڅ محدودیت او پای نه لري؛ خو د برېښـــنا نور ډولونه لکه د ډبرو سکاره، نفت او طبیعي ګاز په نړیواله کچه ډېر په چټکۍ سره د خلاصېدو پـــه حال کې دي. له همدې املـــه لمریزه او بادي برېښـــنا د ذکر شوو طبیعي منابعو په ساتنه کې ډېر مثبت رول لـــري. له لمریزې او بادي برېښـــنا پرته د برېښـــنا تولید نورې سرچینې نایټروجن اکســـاید، سلفر ډای اکساید او نور زهرجن ګازونه منتشروي، چې د روغتیا لپاره ډېر زیان رسوونکي دي. د لمریزې او بادي برېښـــنا تولید اوبو تـــه اړتیا نه لري، چې هغه ککړې او له استفادې یې وباسي. لمریزه او بادي برېښنا په ډېر کم لګښـــت سره په ډېرې اسانۍ تولیدیږي او د هغې وارداتي برېښنا له پېرولو مخنیوی کوي چې قیمت یې ډېر زیات دی. په دې سره کولی شـــو د وخت په تېرېدو پیسې سپما او په نورو پراختیایي برخو کې یې ولګوو.

## د برېښنا د تولید په برخه کې د اسلامي امارت هڅې

د برېښنا اقتصادي ارزښت او په هېواد کې موجود ظرفیت ته په کتو اسلامي امارت جدي هڅې پیل کړې دي، څو په کور د ننه له موجودو سرچینو په ځانګړي ډول له نوې کېدونکو او پاکو هغو(لمر او باد) څخه د هېواد د اړتیا وړ برېښنا تولید او په تدریج سره په دغه ســـکټور کې خودکفایۍ ته ورسېږي. په همدې موخه یې په یوشمېر ولایتونو کې د ۲٦۱ میګاواټه په ظرفیت او د ۲۲,۷ میلیارده افغانیو په پانګونې سره د لمریزې، بادي او ګازي برېښنا یوشمېر پروژې پیل کړې دي.

پـــه دې کې د کابـــل ولایت سروبي ولســـوالۍ کې د ۲۲,۷ میګاواټه لمریزې برېښنا، د بلخ ولایت دهدادي ولسوالۍ کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښـــنا، په هرات ولایت کې د پنځه میګاواټه لمریزې برېښنا، په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزې برېښـــنا، په هرات ولایت کې د ۴۳,۲ میګاواټه بادي برېښنا، د لوګر ولایت محمداغې ولسوالۍ کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښـــنا، د ننګرهار ولایت شیخ مصري صنعتي پارک کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښـــنا، د جوزجان ولایت مرکز شـــبرغان کې د ۵۰ میګاواټه ګازي برېښنا او د کابل ولایت سروبي ولســـوالۍ کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې شـــاملې دي. د یادونې وړ ده چې په سروبي ولسوالۍ کې د لس میګاواټه لمریزې برېښـــنا پروژه عملاً ګټې اخیستنې ته سپارل شوې ده.

## پایله

د لمریزې، بادي او ډبرو ســـکرو څخه د برېښنا تولید د یادو پـــروژو د چارو په بشـــپړېدو او د تولید پـــه پیل سره به په کابل، هرات، لغمان، لوګر او دې تـــه ورته نورو ولایتونو کې صنعت وده وکړي، د صنعت د پراختیا په موخه به نوې پانګـــه جذب شي، د خامـــو موادو تولیـــد او تهیه به وده وکړي، د خلکو اړتیاوې به د باکیفیتـــه کورنیو تولیداتو پر مټ پـــه ارزانه بیه پوره شي، د صنعت د ودې لپاره به نوې ټکنالوژي او پرمختللې ماشـــینري راوړل شي چې په ورته وخت کې به یوشـــمېر هېوادوال په تخنیکي او مســـلکي لحاظ و روزل شي، ډېری هېوادوالـــو ته به په کور دننه د کار زمینه برابره شي او بهرنیو هېوادونو ته به په قاچاقي او سختو لارو د هغوی له تللو مخنیوی وشي، د یادو ولایتونو د اوســـېدونکو د ژوند کچه به ورسره لوړه شي، د چاپېریال ساتنې پر وړاندې به یو اســـاسي ګام واخیستل شي او په مجموع کې به د انرژۍ ســـکټور په برخه کې د پانګونې د جذب کچه زیاته شي.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۲,٦۰؋ | ۷۲,٦۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲٤۹؋ | ۲٤۹؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۳۲؋ | ۱,۳۲؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۸۲,٤۷؋ | ۸۲,۵۳ ؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۷؋ | ۰,۸۷؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸٤٤؋ | ۸٤۵؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۹٤,۹۸؋ | ۹۵,۰٤؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۹,۳٤؋ | ۱۹,۳٦؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۷۷؋ | ۱۹,۷۸؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۹٦؋ | ۹,۹٦؋ |